## افغانستان ـــ تاجکستان ـــ پاکستان

## د سرحدی اوبو ورکشاپ

## له لېرې واټن څخه د زده کړی ولسم ماډیول

**په نړیواله کچه د اوبو د معلوماتو تریکول او د اوبود جریان د برنی برخې او د اوبو د جریان له کورنۍ برخې له هیلو سره نړیوال مشارکت او دمعلوماتو شریکول :**

- د اوبو نړیوال مدیریت خورا لویې او ډېرې ښې ډاټا او معلوماتو ته لاسرسی غواړي.
- د غه ډول معلومات د ورښت او د سیند د اوبو د جریان حجم باید د ساحې د کلاسیکې اندازه ګیرۍ له مخې د محلي پرسونل په واسطه راټول شي.
- د ورښت او د واورې د اوبو معادلت، د اوبو د جریان د خاورې لنده بل اندازه ګیري او د آب وهوا او اقلیم نورې اندازه ګیرۍ او اوبو موجودیت د سپوږمکی د ریموټ سنسنګ په واسطه لاسته راتلای شي.
- د اوبو د جریان خورا ښه ریکارد ساتل د اوبو د ښه مدیریت لپاره په تیره بیا په هغه وخت کې چې اقلیم د تغیر پیش بیني نه شي کېدای.
- د سرحدي اوبو ویب سایټ په اوماها کې د نبراسکا د پوهنتون پواسطه ساتل شوی دی. په اوماها کې د نبراسکا پوهنتون د اوبو د هایدرولوجیکي ډاټا د زېرمه کولو خورا ښه سایټ ګنل کیږي. د افغانستان ، تاجکستان او پاکستان حکومتي رسمي کارمندان په وړیا توګه کولای شي له هغې ګټه واخلي .

**د اوبو د جریان  د برنی برخې مشارکت د اوبو د جریان له کوزنی برخې د هیلو سره د اوبو پرسر راکړه ورکړه:**

- افغانستان او تاجکستان د اوبو د جریان برني هېوادونه کولای شي له اوبو څخه د ګټې اخېستنې اغېزمن مشارکت جوړ کړي. دغه دواړه هېوادونه ورته طبیعی چاپېریالونه لري او ورته کلتوري او مذهبی ځانګړتیاوې لري.
- افغانستان او تاجکستان یو ډول اړتیاوې لري. د اوبو د جریان د برني هېوادونو په توګه زیاتې پرمختیا ته اړه ده چې په ګډه اوبه اندازه کړي، ویې ارزوي، ساتنه یې وکړي او تنظیم یې کړي او په پای کې اوبه عرضه او سمبال کړي.
- افغانستان او تاجکستان د اوبو د جریان د کوزنی برخې هېوادونو د ازبکستان، ترکمنستان او قزاقستان پر وړاندې د اوبو د مدیریت واحده جبهه جوړه کړي. همدغه د اوبو د جریان د کوزنی برخې هېوادونه له اوبو څخه د ګټې اخیستونکي او د ارال د سنمد رکي چې اوبه یې مخ په کمېدو دي، کوربه هېوادونه ګنل کیږي.

- افغانستان او تاجکستان ښايي وغواړي چې په اوماها کې د نبراسکا له پوهنتون او د Daughtery د اوبو او خوړو له انستيتيوت سره شراکت جوړ کړي، چې ددې هېوادونو د جګو پرتو سيمو لپاره د اوبو د مديريت خورا ډېر ښه پلان جوړ کړي.
- افغانستان او پاکستان کولای شي په هايدرلوژيکي پرمختياوو کې (د اوبو بندونه، د اوبو لګولو سيستمونه، د اوبو برښنا د توليد لپاره بندونه ) د چترال ـ کونړ ـ کابل د سيند د سيستم له پاسه، د شريکو اوبو د منبع په توګه جوړ کړي.
- افغانستان او پاکستان کولای شي په ګډه د اوبو د جريان حجم اندازه کړي، چې د کابل د سيند د سيستم د سيلاب د ګواښ flood hazard ځارنه وکړي، سره له دې چې د دې کار پر وړاندې د پښتنو جګړه کوونکو او طالبانو قوی فشار موجود دی.
- پاکستان د اوبو ډير ښه انجنيران لري، له هغه ځخه د ډيزاين په برخه کې مرسته غوښتل کيدای شي، چې د اوبو د راګرځولو قوی جوړښتونه( ويالي او بندونه) او د اوبو د برښنا نوې اسانتياوې جوړې کړي، چې دواړه هېوادونه ورڅخه ګټه واخلي. د مذاکرې لپاره زمينه برابرول، ښايي مذاکره د جاسوسی او سبوتاژ وېره کمه کړي. دغه ډول وېره ښايي د انجنيرانو د تبادلې پواسطه رامنځته کول، چې د سرحد په دواړو خواوو کې د ستونزو پر وخت د خبرولو بورډ يا د هشداردهي د سيستم (Early warning system) په توګه کار وکړي، راکمه شي.
- د اوبو د ښوني او روزني ګډ سيستمونه بايد پلي شي او د ښووني او روزني دغه سيستم بايد د سرحد دواړو خواوو لپاره د زده کوونکو او محصلانو د تبادلې (Cross – border student exchange ) زمينه رامنځته شي، چې د هېوادونو ترمنځ د اوبو په مساله کې پاملرنه زياته کړي.
- د مرکزی اسيا، جنوبي آسيا او Daugherty د خوړو او اوبو انستيتوت چې د نبراسکا په پوهنتون کې دی، د اوبو د ښووني او روزني ګډ کار بايد پيل شي. دغه د ښووني او روزني هڅې دي، چې د نړېوالو اوبو د هر ډول ښووني او روزني لپاره وړاندې کېږي.

**له ليرې واټن څخه د زده کړې ولسم ماديول پوښتنې (دلته کليک وکړی)**